# مسیر


ورځپاڼه

www.maseerdaily.af

نوی لید، نوی مزل

سه شنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۲۷مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۱۸مه | دویم کال|۳۰۲یمه ګڼه


## څېره




# د سولې مشورتي بورډ په پرونۍ ناسته کې د دغه بورډ ډېریو غړیو ګډون نه و کړی



۲

## د کرنې له کارپوهانو سره د بزګرانو د اړیکو لومړنی مرکز پرانیستل شو



په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د کرنې له کارپوهانو سره د بزګرانو د اړیکو مرکز پرانیستل شو.

د کرنې او مالدارۍ وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې یاد پرانیستل شوی مرکز به له بزګرانو سره د ترویج او کرنیزو محصولاتو د ترلاسه کولو په برخه کې مرسته وکړي او بزګران به د کرنې له کارپوهانو سره سلا مشورې کوي.

د یاد وزارت د خپرې شوې خبرپاڼې پر بنسټ، د ټول هېواد په کچه بزګران کولای شي له ۱۵۰ وړیا شمېرې سره په اړیکه کې شي او د کرنې په برخه کې له کارپوهانو د اړتیا وړ نظر واخلي.

د سرچینې د معلوماتو له مخې، د کرنې د کارپوهانو له مشورو نه د بزګرو د استفادې په صورت کې د دوی حاصلات ښه کېږي او په اقتصاد کې یې هم د پام وړ بدلون راځي.

## ولسي جرګه راتلونکې اونۍ پنځه وزیران د بودجې د کم لګښت له امله استیضاح کوي

ولسي جرګه راتلونکې اونۍ د عامه ګټو، عدلیې، له نشه یي توکو سره د مبارزې، ترانسپورټ او مخابراتو وزیران په ۱۳۹٦ لمریز کال کې له ۷۰ سلنې د کمې بودجې د لګښت له امله استیضاح کوي.

دې جرګې د روان کال د لیندۍ پر درېیمه د ۱۳۹٦ لمریز کال د قطعیې راپور رد کړ او پرېکړه یې وکړه چې د هغه بودجوي واحدونو چارواکي چې له ۷۰ سلنې کمه انکشافي بودجه یې مصرف کړې، استیضاح او د ۱۹ دغه ډول واحدونو مسوولان دې له دندو ګوښه شي.

قطعیه حساب هغه راپور دی چې په یوه کال کې د هېواد مالي وضعیت او د بودجې د تطبیق او تحقق څرنګوالی څرګندوي او د ټولو بودجوي واحدونو له خوا ترتیب کېږي.

د ۱۳۹٦ لمریز کال د قطعیه راپور له مخې، د عدلیې، اوبو او انرژۍ، له نشه یي توکو سره د مبارزې، د عامه ګټو، اطلاعات او کلتور، مخابراتو، پوهنې، کانونو او پټرولیم او ترانسپورټ وزارتونو له ۷۰ سلنې کمه انکشافي بودجه مصرف کړې ده.

د یادونې ده چې د اوبو او انرژۍ، اطلاعاتو او کلتور، پوهنې او کانونو وزارتونه د سرپرستانو له خوا اداره کېږي او ولسي جرګه سرپرستان نه شي استیضاح کولای، خو د استجواب صلاحیت یې لري. د ولسي جرګې د رییسانو کمېټې پرېکړه کړې چې راتلونکې شنبې د عامه ګټو وزیر، دوشنبې د عدلیې او له نشه یي توکو سره د مبارزې وزیران او چهارشنبې د ترانسپورټ او مخابراتو وزیران استیضاح کړي.

د ولسي جرګې منشي میرداد خان نجرابي هم پژواک ته ویلي چې د پنځو وزیرانو د استیضاح موضوع د ولسي جرګې په اجنډا کې شامله ده.

## د ټاکنیزو درغلیو په اړه له ۱۹ ولایتونو ۸۱ قضیې را رسېدلې



۲ مخ

## در حملهٔ هوایی نیروهای افغان در لوگر شش فرد ملکی کشته شده اند



اعضای شورای ولایتی لوگر میگویند که در حملهٔ هوایی نیروهای افغان شش فرد ملکی کشته شده اند؛ اما مقامات حکومتی میگویند که کشته شدگان افراد طالبان اند.

عبدالوکیل معاون شورای ولایتی لوگر، به آژانس خبری پژواک گفت که نیروهای افغان در مربوطات ولسوالی چرخ، بر موتر افراد ملکی حمله کرده اند.

موصوف گفت: «در این موتر، آن عده موسفیدانی بودند که به ولسوالی چرخ لوگر رفته بودند تا یک جوان را از بند طالبان آزاد نمایند».

به گفتهٔ وکیل، در این حمله شش فرد ملکی کشته شده اند که باشندگان منطقهٔ دهنو ولسوالی محمد آغه بودند.

بلال باشندهٔ منطقهٔ دهنو نیز به آژانس خبری پژواک گفته است که تمام کشته شدگان این رویداد، افراد ملکی هستند.

وی افزود: «طالبان چند روز قبل، از قریه ما یک جوان را به اتهام همکاری با دولت برده بودند، این افراد برای رها کردن آن جوان رفته بودند، که بر موتر شان حمله هوایی شده و تمام این افراد را کشته اند».

اما شاه پور احمدزی سخنگوی قوماندانی امنیهٔ لوگر، گفت که نیروهای افغان، این حمله را در ولسوالی چرخ بر موتر نوع سراچهٔ طالبان مسلح انجام داده اند. وی افزود که در این رویداد، شش طالب مسلح کشته شده اند.


if You Can Think It, We Can ink it.

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ

+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

# د سولې مشورتي بورډ په پرونۍ ناسته کې د دغه بورډ ډېریو غړیو گډون نه و کړی



د حکومت د سولې مشورتي بورډ په لومړنۍ ناسته کې چې د ولسمشر غني په مشرۍ پرون شوې وه، د اکثریت گوندونو مشرانو او مشهورو سیاسي څېرو گډون نه و کړی.
د سیاسي احزابو کمېټه وايي چې دوی له طالبانو سره د سیاسي گوندونو مرکچي پلاوي پر ترکیب کار کوي او ډېر ژر به اعلان شي.
له طالبانو سره د مرکچي پلاوي د ټاکلو په تړاو د گلبدین حکمتیار تر ځرگندونو وروسته د جمعیت اسلامي، حزب اسلامي او وحدت اسلامي گوندونو استازي وايي، د بین الافغاني مذاکراتو لپاره یوازینۍ لار د سیاسي احزابو له لارې د مذاکراتو پرمخ وړل دي او یوازې احزاب کولای شي چې د طالبانو باور ترلاسه کړي.
په ولسمشرۍ ماڼۍ کې د حکومت د سولې عالي مشورتي بورډ لومړنۍ ناسته کې ویل شوي چې له طالبانو سره به مذاکرات یوازې حکومت ترسره کوي، نه سیاسي احزاب.
د سیاسي گوندونو استازو فیض الله ساپی، اسدالله سعادتي او عبدالودود پیمان کابل نیوز ته ویل چې د سیاسي احزابو کمېټې چې د ۲۷ گوندونو له استازو تشکیل شوې او د هېواد اووه مطرح سیاسي گوندونه یې رهبري کوي، له طالبانو سره د مذاکراتو لپاره پر مرکچي پلاوي هم بحث کړی.
د سولې عالي شورا غړی عبدالحکیم مجاهد په دې پروسه کې د سیاسي گوندونو پر رول ټینگار کوي او وايي، د هرې هغې هڅې ملاتړ کوي چې افغانان سولې ته ورسوي.
خو ظاهراً د ملي یووالي حکومت مسوولان د سیاسي احزابو له لارې له طالبانو سره پر مذاکراتو ناخوښه دي او د سولې عالي مشورتي بورډ په لومړنۍ ناسته کې پریکړه شوې چې د مذاکراتو د پرمخ وړلو صلاحیت د سیاسي احزابو نه، بلکې د حکومت دنده ده.
شنونکي وايي، له طالبانو سره د مستقل افغاني پلاوي د ټاکل کېدو طرحه د سیاسي احزابو او حکومت د اقداماتو له امله بې ارزښته شوې او ښايي دا ډله هم له دغسې پلاویو سره د خبرو اترو پرځای، له افرادو سره پر ناستو تمرکز وکړي.

## لویه څارنوالي: د ټاکنیزو درغلیو په اړه له ۱۹ ولایتونو ۸۱ قضیې را رسېدلې

لویه څارنوالي وايي، تر اوسه ورته د ټاکنیزو درغلیو او جرایمو په اړه له ۱۹ ولایتونو ۸۱ قضیې رسېدلې چې په تړاو یې ۲۳۰ کسان تورن او مجرم گڼل شوي دي.
د لویې څارنوالۍ ویاند جمشېدرسولي پرون په کابل کې خبریالانو ته وویل، په تذکرو کې تزویر، د دغو تذکرو لېږد او کارول، د ټاکنیزو ستېکرونو خرڅول، د ټاکنیزو اساسو موادو غلا، د محلونو د چارو اخلالول او داسې نور هغه موارد دي چې عاملین یې نیول شوي او څېړنې ترې روانې دي.
ده وویل، دا د هغه پلاوي ارزونې دي چې ټاکنیزو شکایتونو ته په پام د لویې څارنوالۍ په مشرۍ د جمهوري ریاست له خوا د هېواد ۱۹ ولایتونو ته گومارل شوی و.
نوموړي په دې اړه وویل: «تر اوسه چې د کابل په گډون په ۱۹ ولایتونو کې د انتخاباتو او د انتخاباتي جرایمو اړوند پېښې شوې، په مجموع کې ۸۱ قضیې لوېې څارنوالۍ ته رسېدلې چې وڅېړل شي. په دغو قضیو کې ۲۳۰ کسان تورن دي.»
رسولي دغه راز وویل، په دوی کې ۲۲ کسان د ټاکنو کارکوونکي، ۳۲ د ملکي او نظامي ارگانونو منسوبین، ۴ د ولسوالیو د شوراگانو کاندیدان او ۱۵۵ عام وگړي دي.
د لویې څارنوالۍ ویاند دا هم وویل، د ټاکنو په پروسه کې په ټول هېواد کې ۵۵۴ تذکرې تزویر شوې او د پکتیکا په ولایت کې د ټاکنو د اساس په ۷ ټوکه کتابونو کې گوتې وهل شوې چې د ټولو په اړه جدي ارزونې او څېړنې روانې دي.
دا په داسې حال کې ده چې د ولسي جرگې د ټاکنو پرمهال گڼو سیاسیونو، د سیاسي گوندونو ملي ائتلاف، مدني ټولنې، د ملي شورا غړو او عامو خلکو په وار وار د ټاکنو په پروسه کې پر درغلیو انتقادونه کړي دي.
د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون هم ویلي چې د دې پروسې اړوند یې زرگونه شکایتونه ترلاسه کړي دي.
د ازادو اوعادلانه ټاکنو د بنسټ اجرایوي رییس یوسف رشید له ازادي راډیو سره په خبرو کې د لویې څارنوالۍ دغه هڅه ستایلې، خو ټینگار کوي چې دغه اداره دې د کشفي او امنیتي ارگانونو په مرسته د ټاکنیزو درغلیو نورې قضیې هم کشف کړي.
رشید وویل:«د دغه فساد کچه ښايي ۸۰ قضیو پورې محدوده پاتې نه شي. له لوېې څارنوالۍ نه هیله ده چې دغه قضیې یوازې په ولایتونو کې د ټیټ پوړو کسانو په سطحه په پام کې ونه نیسي، بلکې مهم دا دی چې هغه کاندیدان چې په دغه پروسه کې په



رشوت کې دخیل وو، هغوی هم باید مستثنا نه شي.»
رشید وویل، لویه څارنوالي باید د ټاکنو په پروسه کې د تورنو او مجرمینو په اړه د خپلو څېړنو نتایج خلکو ته اعلان کړي، تر څو خلک پر عدالت او د حکومت پر حاکمیت باوري شي.

## سعودي عربستان د امریکا د کانگرېس وروستي پرېکړه لیکونه غندلي



سعودي عربستان د امریکا د مشرانو جرگې هغه وروستي پرېکړه لیکونه غندلي چې په یمن کې د سعودي په مشرۍ له ائتلافه د امریکا د ملاتړ د ختمولو غوښتنه پکې شوې ده.
په دغو پرېکړه لیکونو کې د سعودي خبریال جمال خاشقجي د وژلو په تړاو په مستقیم ډول د دغه هېواد د ولیعهد د تورنولو غوښتنه هم شوې ده.
د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر عادل الجبیر ویلي: «د عربستان شاهي هېواد د امریکا د مشرانو جرگې وروستی دریځ چې پر ناسمو تورونو ولاړ دی، غندي او په خپلو داخلي چارو کې هر ډول لاسوهنه ردوي».
د امریکا د کانگرېس مشرانو جرگې د تېرې پنجشنبې په ورځ د ولسمشر ټرمپ پر وړاندې په یوه مجازاتوونکي اقدام کې د هغه پرېکړه لیک ملاتړ وکړ چې د یمن په جگړه کې له سعودي عربستانه د امریکا د پوځي ملاتړ د بندولو غوښتنه پکې شوې ده.
په یمن کې د سعودي په مشرۍ ائتلاف جگړې ته چې امریکا یې ملاتړ کوي، ډېر کسان د ایران پر وړاندې د نیابتي جگړې په سترگه گوري.
د یمن شخړه په ۲۰۱۵ ز کال کې وروسته له هغې شدیده شوه چې د ایران له ملاتړه برخمنو شیعه حوثي یاغیانو د پلازمېنې صنعا په گډون د دغه هېواد د لوېدیځ زیاتې برخې ونیولې.
سعودي عربستان او اتو نورو عرب هېوادونو د ولسمشر عبدالربه منصور هادي د حکومت د ملاتړ لپاره چې نړیوال یې په رسمیت پېژني، په دغه هېواد کې پوځي مداخله وکړه.
د امریکا متحده ایالتونو، برېتانیا او فرانسې د دې پوځي مبارزې ملاتړ کړی، خو بیا هم د یمن په جگړه کې د نږدې ۱۰ زرو کسانو د مړینې خبر ورکړل شوی چې زیاتره یې ملکیان دي او په میلیونونو نور کسان بیا د قحطۍ له خطر سره مخ دي.
بلخوا د امریکا مشرانو جرگې په یوه جلا پرېکړه لیک کې د سعودي عربستان ولیعهد محمد بن سلمان د خبریال جمال خاشقجي د وژنې مسوول بللی دی، خو دغه پرېکړه لیکونه تر ډېره سمبولیکه بڼه لري، ځکه لا معلومه نه ده چې سپینه ماڼۍ به یې ملاتړ وکړي، که نه.
د امریکا استخباراتي ادارې ویلي، اسناد او مدارک ښيي چې د سعودي عربستان ولیعهد محمد بن سلمان په دې وژنه کې لاس لري.
دا په داسې حال کې ده چې سعودي خبریال جمال خاشقجي په اکتوبر کې په استانبول کې د سعودي عربستان په کونسلگرۍ کې دننه ووژل شو، خو د دغه هېواد ولیعهد د خاشقجي په وژنه کې خپل هر ډول دخالت رد کړی دی.


## دریځ

### په اماراتو کې د سولې خبرې


په متحده عربي اماراتو کې پرون یو ځل بیا د افغان سولې په تړاو خبرې وشوې. په دغه غونډه کې د طالبانو او خلیلزاد په مشرۍ د امریکایي پلاوي ترڅنگ د سعودي، متحده عربي اماراتو او پاکستان استازو هم برخه اخیستې وه. که څه هم طالبانو ویلي چې په غونډه کې یې د قطر دفتر غړو برخه اخیستې ده، خو ځینو سرچینو رویټرز ته ویلي چې د ملا عمر د زوی ملا یعقوب دوو استازو هم په غونډه کې برخه اخیستې ده. رویټرز دا هم ویلي چې غونډه به درې ورځې دوام کوي.
په کابل کې چارواکي مني چې د دوی یو پلاوی هم متحده عربي اماراتو ته تللی دی. طالبانو بیا ویلي چې له دې پلاوي سره یې نه لیدلي او نه هم د لیدلو اراده لري.
په متحده عربي اماراتو کې د شوې غونډې جزیات نشته او معلومه نه ده چې په څه خبرې شوې دي. د افغانستان د سولې په چاره کې اوس ښکاره د دوو بلاکونو سیالي لیدل کېږي. د افغان سولې په برخه کې عربي هېوادونه، په ځانگړې ډول امارات او سعودي په امریکایي بلاک کې دي او ټوله هڅه یې دا ده چې پر طالبانو د فشار له لارې هغوی د امریکایي غوښتنو او اډو منلو ته اړ کړي. بلخوا روسیه، چین او ایران بیا غواړي چې افغان سوله د خپلو گټو سره سمه را وڅرخوي او په افغانستان کې امریکایي حضور پیکه کړي. پاکستان بیا په منځ کې دی چې که له هر لوري ورته ډېر امتیاز ورکړل شي، همغه لوری به نیسي. عربي هېوادونه له یوه اړخه له امریکا سره د نږدې اړیکو پر اساس د سولې په چاره کې مرسته کوي او له بله اړخه غواړي د دې مرستې له لارې د هغه بلاک پر وړاندې یو څه وکړي چې ایران یې برخه دی.
د افغانستان د جگړې او سولې بحث امریکا خپل انحصار گڼي او پاکستان یې پکې له سره ښکېل کړی و، خو اوس ایران، روسیه، چین او نور هېوادونه هم پکې ښکېل شوي دي. په دې خبرو کې ټول اړخونه د خپلو گټو د خوندي کولو هڅه کوي. امریکا او سیمه ییز هېوادونه هم د خپلو گټو د خوندي کولو لپاره هڅې کوي. په دې چاره کې هېر شوی لوری افغانستان دی. دا سمه ده چې طالبان د یو افغاني اړخ په توگه په دې خبرو کې برخه لري، خو هغوی بیا داسې مجبوریتونه لري چې د افغاني گټو په خوندیتوب کې به بریالي نه شي. افغان حکومت څنگ ته شوی دی او ستر لامل یې هم دا دی چې دلته له چارواکو سره د افغان گټو او ارزښتونو د خوندیتوب پر ځای د خپلو شخصي گټو او واک د تدوام بحث دی. امریکا بیا بیا وایي چې دوی د افغان دولت په مالکیت او مشرۍ د سولې د خبرو ملاتړ کوي، خو په عمل کې بیا نه یوازې د افغانانو مشري نشته، بلکې حکومت منزوي شوی او ان په خبرو کې برخه هم نه ورکول کېږي. کله چې د افغانستان په تړاو خبرې کېږي او افغان دولت پکې نه وي، باید حکومت شدید اعتراض وکړي، خو حکومت نه غواړي امریکا خپه کړي. له همدې امله اوس د سولې په چاره کې سیمه او امریکا په سیالۍ بوخت دي او په دې سیالیو او چنو کې د افغاني گټو او ارزښتونو د خوندیتوب لپاره څوک نشته.





## د اصلاحاتو او پرانیستي اقتصاد له پیل راهیسې د چین لاسته راوړنې (۱۹۷۸-۲۰۱۷)




د چین د سړي سر عاید او د ودې کچه




په چین کې بېوزله نفوس (سلنه میلیون پر حساب)




د چین کلنی نا خالص تولید (چپ اړخ ته) او د پرمختګ کچه (ښي اړخ ته)

# د اصلاحاتو او اقتصادي لارو د پرانیستلو د څلوېښتمې کلیزې په ویاړ، چین غواړي چې له افغانستان سره په یوه نوي سفر کې ملګرتیا وکړي

**لیو جینسونګ، په افغانستان کې د چین سفیر**



زه په ۱۹۷۲ ز کال کې د چین په شینجیانګ اویغور کورواکه سیمه کې زېږېدلی یم. دغه سیمه د افغانستان له بدخشان سره ګډه پوله لري. زه چې ماشوم وم، ټوله کورنۍ مو یوه کوچنۍ خونه کې اوسېده. خواړه او جامې دواړه به د کوپون کارت له مخې را کول کېدل. له هره اړخه چې ورته وګورې، هغه وخت ژوند ډېر سخت و. په ۱۹۷۸ ز کال کې چې زه شپږ کلن وم، چین د اصلاحاتو لړۍ پیل کړه او اقتصادي لارې یې پرانیستې، وروسته بیا دا یو تاریخي مزل ثابت شو. په تېرو څلوېښتو کلونو کې د چین خلکو په پوره زړورتیا سره په غرونو کې لارې جوړې کړې، پر سیندونو یې پلونه ورغول، په سخت کار کولو سره یې «په انساني تاریخ کې تر ګردو ډېره جالبه معجزه» وکړه، چټک پرمختګ یې رښتیا کړ او ځانونه یې له یوه وروسته پاتې ملت څخه د نړۍ تر رهبرۍ ورسول. له هغه وخت راهیسې په چین کې خورا لوی بدلونونه راغلي دي او د پام وړ تاریخي لاسته راوړنې ترلاسه شوې دي. زما د هېواد اقتصاد چټک پرمختګ وکړ. په ۱۹۷۸ ز کال کې د چین د کورني ناخالص تولید کلنۍ کچه یوازې ۳۶۴،۵ میلیارده چینایي ین وه، خو په ۲۰۱۷ ز کال کې د چین د ناخالص کورني تولید کچه ۸۲،۷ ټریلیون چینایي ین ته ورسېده. معنا دا چې د کورني ناخالص تولید کچه ۲۲۵ ځله زیاته شوې او د کلني اقتصادي پرمختګ اندازه ۹،۵ سلنه ده. د بهرنۍ سوداګرۍ کچه له ۱۲،۳ میلیارده امریکایي ډالرو څخه څلور ټریلیون ډالرو ته پورته شوې ده. له ډېرو کلونو راهیسې چین د نړۍ په اقتصادي پرمختګ کې ۳۰ سلنه ونډه لري. چین د نړۍ دویم لوی اقتصادي هېواد دی، د نړۍ تر ټولو لوی صنعتي هېواد دی، د توکو تر ټولو لوی سوداګریز هېواد دی او په نړۍ کې د بهرنیو اسعارو د تبادلې تر ټولو لوی ساتونکی هېواد دی. چین په بریالي ډول د کم عاید لرونکو هېوادونو له ډلې د منځني عاید لرونکو هېوادونو پر لور ولاړ.

ولسواکي په چین کې بریالۍ ده. له دې ټینګ باور سره چې د دولت ټول ځواک په خلکو پورې تړلی دی، د چین حکومت د ټولو هغو حقونو درناوی کوي او د رسېدو لپاره اسانتیاوې ورته رامنځته کوي چې اساسي قانون او نورو نافذه قوانینو خلکو ته د شخصي، ملکیت او په سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ژوند کې د ګډون لپاره ورکړې دي. موږ په چین کې د قانون د حاکمیت ملاتړ کوو، بېلابېل سیستمونه، قوانین او مقررات جوړ شوي او ساتل شوي دي. د حساب ورکونې او څارنې مېکانیزمونه په پرله‌پسې ډول د قوانینو او د چین د کمونست ګوند د مقرراتو له لارې ځواکمن شوي دي، څو له اصلاحاتو او د اقتصادي لارو له پرانیستو څخه ساتنه وشي.

کلتور او فرهنګ غوړېدلي دي. د چین په لر او بر کې هم په لویو ښارونو کې او هم په کوچنیو ښارونو کې د سېلف سروېس کتابتونونه شته دي. د بهرنیو هنرمندانو ډلې چین ته راځي، دوی د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه راځي او زموږ خلکو ته اوپراګانې، ارکسټرونه او ننداړتونونه وړاندې کوي. له تېر کال راهیسې چین ته د افغانستان تاریخي او عتیقه اثار د ننداړتونونو لپاره وړل شوي دي، ډېر خلک د دغو اثارو د لیدلو لپاره ننداړتونونو ته ورځي او په لیدو یې خپله کلتوري پوهه بډایه کوي. چین په نړۍ کې د فلمونو لپاره تر ټولو لوی مارکېټ دی، په ۲۰۱۷ ز کال کې په چین کې ۹۷۰ فلمونه جوړ شوي وو، ۱،۶۲ میلیاردو کسانو دا فلمونه کتلي وو او له دې لارې ۵۵،۹۱۱ میلیارده چینایي ین ترلاسه شوي وو.

د خلکو ژوند تر پخوا ډېر ښه شوی دی. پخوا به موږ یوازې د خېټې او جامو غم کاوه، خو اوس مو ژوند ډېر ښه شوی دی. پخوا زموږ غوښتنه ترلاسه کول وو او اوس مو غوښتنه کیفیت دی. دمګړۍ په چین کې تر ۱۰۰ میلیونه ډېر ښاریان د منځني اقتصاد درلودونکي دي. د ۲۰۱۸ ز کال په جولای کې د انټرنېټ کاروونکو شمېر ۸۰۲ میلیونو تنو ته ورسېد، په دوی کې ۵۳۳ میلیونه تنه انلاین خریداري هم کوي. په ټولنه کې د بانکي نوټونو کارول ډېر کم شوي دي. ان تر دې چې د سرک پر سر که له پلورونکو څه اخلئ، نو د بانکي نوټونو ورکولو ته اړ نه یاست. تقریباً ټولې راکړې ورکړې د ځیرک ټلیفون له لارې ترسره کېدای شي. خلک د راتلونکي په هکله ښایسته تمې لري او د راتلونکي په باب ډېر ډاډه دي چې ورځ تر بلې به ښه کېږي.

په نړیواله کچه د چین اغېز د هرې ورځې په تېرېدو سره ډېرېږي. نړیواله ټولنه په پوره شوق سره دا تمه لري چې چین د رهبرۍ رول ولوبوي، مخکې له چین څخه تمه دا وه چې نړیوالو مسوولیتونو او دندو ته اوږه ورکړي، خو اوس تمه دا ده چې چین د نړۍ په نوي پرمختګ کې مخکښ رول ولوبوي. تمه دا ده چې چین به له خپلې پوهې څخه په نړیوال ثبات او سوکالۍ کې کار واخلي، هغو ستونزو ته به خپلې حللارې وړاندې کړي چې بشر ورسره مخ دی او د «یوه کمربند، یوې لارې» د پروژې غوندې به لا نور ډېر نړیوال عامه کارونه وکړي. همدارنګه تمه دا ده چې چین به له لا نورو ډېرو هېوادونو سره د دوه اړخیزو ګټو او «بریا-بریا» همکاریو او پرمختګ په برخه کې مخکښ رول ولوبوي.

چین په تېرو څلوېښتو کلونو کې د اصلاحاتو او اقتصادي دروازو له پرانیستلو ډېرې ارزښتناکې تجربې ترلاسه کړې. په دې برخه کې دا لاندې ډېرې د پام وړ دي.

**لومړی-** د یوه ځواکمن سیاسي ګوند رهبري ډېره مهمه ده. چین یو سوسیالیستي هېواد دی، د سوسیالېزم له یوې بنسټي ځانګړنې او چینایي ارزښتونو سره سم د چین د کمونیست ګوند رهبري ده. په تېرو څلوېښتو کلونو کې د کمونیست ګوند په مشرۍ لاندې هر ګام ښه پلان شوی، هر ګام په منظم ډول اخیستل شوی دی. د چین کمونیست ګوند په پر له‌پسې ډول د وخت له غوښتنو او د خلکو له ارادې سره سم په ګوند کې اصلاحات را وستلي دي. دغه ګوند زموږ د هېواد او ولس د پرمختګ پر وړاندې ټول ایډیولوژیکي او سازماني خنډونه د له منځه وړلو ډېر ښه مدیریت کړی دی او د ښکاره پرمختګونو په برخه کې یې د خلکو او خپله د ګوند د غړیو توافق ترلاسه کړی دی.


**دویم-** د فکر ازادي او نظري نوښت ډېر مهم رول لوبوي. په چین کې که کوم لوی بدلون راځي، نو حکومت د ټولنې هره طبقه خلک هڅوي چې په دغه تړاو په بحثونو کې برخه واخلي. د دغو بحثونو په پایله کې ټولنیز توافق ترلاسه کېږي چې اصلاحات ورسره راځي او اقتصادي لارې ورسره پرانیستل کېږي. دا کار د اقتصادي پرمختګ او ټولنیزو بدلونونو لامل کېږي؛ نو د فکر ازادي د اصلاحاتو او اقتصادي لارو د پرانیستو لامل کېږي چې پایله یې اقتصادي پرمختګ کېږي. د وخت له غوښتنو سره سم د سوسیالېزم لپاره له چینایي ارزښتونو سره سم یو نظري سیستم رامنځته شوی دی. د بېلګې په توګه، د « دنګ شیاو پینګ تیوري» د «دریو استازیتوبونو» مهمه مفکوره، د پرمختګ علمي ارزونه او د نوې زمانې لپاره د چین ځانګړی سوسیالیزم په اړه د شي جین پینګ مفکوره، د اصلاحاتو او اقتصادي دروازو د پرانیستلو د مختلفو پړاوونو عملي لارښود دی.

**درېیم-** د اصلاحاتو کارونه باید انعطاف منونکي وي. په چین کې اصلاح په تدریجي ډول را منځته شوې ده. پر سیند داسې تېرېدل چې ډبرې یې حس کړې، د بېلګې په ډول، که د تېروتنې نښې نښانې ولیدل شي، نو باید پام ورته وشي او پر وخت یې چاره وشي. پیلوټ پروژې په هغو ځایونو کې ترسره کېږي چې شرایط ورته برابر وي، نو اصلاح کوونکي نوي مقررات پېژندلای شي، کامیابه تجربه ترلاسه کوي او بیا دغه ازمویل شوې لارې چارې عملي کوي. چین اقتصادي پلان جوړونې ته ډېر ارزښت او اهمیت ورکوي، له اړونده قانوني او اداري اغېزو سره، باید د حکومت په ټولو برخو کې عملي شي. د ملت ټول فعالیتونه، لکه د شطرنج د لوبې له دانو سره همغږي شوي دي چې د اصلاحاتو د مختلفو کارونو د تطبیق ډاډ ورکوي.

**څلورم-** د اصلاحاتو، پرمختګ او ثبات ترمنځ اړیکې باید په سم ډول سنبال شي. د چین حکومت په دې برخه کې ځینې بنسټي باورونه لري، له اصلاحاتو سره پرمختګ رامنځته کوي او په اوږدمهال کې د ټیکاو لپاره بنسټ برابروي، د اصلاحاتو موخه پرمختګ کول دي چې ټیکاو تضمین کوي او د اصلاحاتو او پرمختګ لپاره ټیکاو شرط دی. دغو خبرو ته په کتو د چین حکومت د اصلاحاتو د کچې، د پرمختګ د چټکتیا او د ټولنې د لاسرسي ترمنځ تعادل ساتلی دی او بیا یې پسې نور اصلاحات را وستلي دي او پرمختګ یې کړی چې د ټولنې ټیکاو یې هم ساتلی دی.

په چینایي کې اصطلاح ده چې څلوېښت کلن انسان ته بېخي شک ور پاتې نه وي. یا په بله وینا په څلوېښت کلنۍ کې یو انسان باطني هوډ او ثبات ته رسېږي او ستونزې یې له خپلې لارې اړولای نه شي. په چین کې د اصلاحاتو د پیل او اقتصادي دروازو د پرانیستو څلوېښت کاله پوره کېږي. د چین ولسمشر شي جین پینګ په ګڼو مناسبتونو کې ویلي دي: «په چین کې اصلاحات به ډېر اړخونه تر پوښښ لاندې راولي او په دې لار کې به لا ډېر او ټینګ ګامونه پورته شي. بله دا چې د چین پرانیستې دروازې به نه تړل کېږي او بلکې تر دې به هم ډېرې پرانیستل کېږي.» د دې معنا دا ده چې د افغانستان او چین د اړیکو لپاره په ټولو برخو کې نوي فرصتونه شته. له دغو نویو فرصتونو سره اوسنۍ دوه اړخیزې ګټورې او دوستانه اړیکې لا نورې پراخې شي. تېر کال زموږ هېوادونو د زعفرانو د صادراتو یو هوکړه لیک لاسلیک کړ. همدا لړه موده وړاندې چین ته د افغانستان د چنغوزو د صادراتو طرحه ریښتیا شوه. دغه کار عامو افغانانو ته لویه لاسته راوړنه وه. همدارنګه په وروستیو کې افغانستان خپل بېلا بېل تولیدات «د چین د وارداتو نړیوال ننداړتون» کې وړاندې کړل. دغه ننداړتون ته د نړۍ د مختلفو هېوادونو سوداګر راغلي وو. د افغانستان ځانګړو تولیداتو لکه؛ غالۍ، ګلدوزي شوو پردو او لاجوردو د چینایي او بهرنیو پېرودونکو ډېر پام ور خپل کړ.

په چینایي او پښتو ژبو کې متل دی چې «پر یو ګل نه پسرلی کېږي.» چین او افغانستان له اوږدې مودې راهیسې سره ملګري، ګاونډیان او اوس ستراتېژیک همکاران دي. چینایان له زړه غواړي چې په افغانستان کې ژر تر ژره سوله راشي او دا هېواد د سوکالۍ مخ ووینې. افغانستان د «اسیا په زړه» کې پروت دی، موقعیت یې جیوستراتېژیک ارزښت لري او د طبیعي سرچینو له اړخه بډای هېواد دی. چین چې د اصلاحاتو او اقتصادي دروازو د پرانیستلو هڅې پراخوي، دواړو هېوادونو ته پکار ده چې د «یو کمربند، یوې لارې، یوې پروژې» په چوکاټ کې همکاري زیاته کړي، دا به له افغانستان سره د کاري فرصتونو او صادراتو په ډېروالي کې مرسته وکړي، افغانستان ته به د یوه نړیوال چاپېریال په اسانولو کې مرسته وکړي او په افغانستان کې به د تګ راتګ (مواصلاتو) شرایط ورسره ښه شي.




# د چین د اصلاحاتو او پرانیستې تګلارې د څلوېښتمې کلیزې په اړه ځانګړی راپور

د برېټانیا د مخکښو پوهنتونونو مشران د چین اصلاحاتو او اقتصادي دروازو د پرانیستلو «فوق العاده» لاسته راوړنو ته ښه راغلاست وايي.

د برېټانیا د معتبرو پوهنتونونو مشران پر دې باور دي چې له هغه وخت راهیسې چې څلوېښت کاله مخکې د چین پخواني رهبر « دنګ شیاو پینګ » اصلاحات پیل کړل او اقتصادي دروازې یې پرانیستلې، چین په «حیرانوونکي» او «فوق العاده» ډول پرمختګ کړی دی.

پرانیستې دروازې او راشه درشه

د کیمبریج پوهنتون رییس «سټېفن ټووپي» له سینهوا اژانس سره په ځانګړې مرکه کې ویلي دي: «زه پر دې باور یم چې دا به هر څوک مني چې چین په تېرو څلوېښتو کلونو کې د ساینس او ټکنالوژۍ په برخه کې خورا لوی پرمختګونه کړي دي او ۷۰۰ میلیونه خلک یې له بېوزلۍ را ویستلي دي. دا ډېره لویه لاسته راوړنه ده او




د بشر په تاریخ کې یې ساری نه لیدل کېږي.»

ټووپي وايي، د اصلاحاتو او اقتصادي دروازو د پرانیستلو له پالیسۍ سره چین له نورې نړۍ سره اړیکو ته غېږه پرانیستله.

ده وویل: «زما په اند، د نړۍ پر مخ د خپلو دروازو پرانیستل د دې لاسته راوړنې تر ټولو لویه برخه ده.»

د اکسفورډ پوهنتون رییسه «لوویس ریچارډسون» هم د نړۍ پر مخ د دروازو پرانیستل او له نړۍ سره د چین راشه درشې د دغه اوږد مزل ستاینه کوي.

هغې، سینهوا اژانس ته وویل: «ډېره خوشاله یم چې چین اوس له نړۍ سره ډېره راشه درشه لري. زما تمه دا ده چې چین به دا کار پسې وغځوي... او زه فکر کوم چې نړۍ یې دومره بډایه کړې چې اوس باید د چین په اړه لا ډېره وپوهېږي.»

پروفیسور ریچارډسون چې په هارورډ پوهنتون کې یې نړیوالې اړیکې او نړیوال حقوق لوستي دي، وايي: «د شخړو د مخنیوي لپاره اړیکې او نړیوال پوهاوی تر ګردو غوره چاره ده».

هغه وايي: «له همدې لامله زه فکر کوم چې بهر ته د زده کړیالانو استول په اوږدمهال کې ډېرې مثبتې پایلې لري، هم برېټانوي زده کړیالان چین ته ځي او تر کومه چې موږ پوهېږو نو زیات شمېر چینایي زده کړیالان هم بهرنیو هېوادونو ته د زده کړې لپاره ځي. دغه زده کړیالان په بهرنیو هېوادونو کې ملګرتیاوې جوړوي چې دغه ملګرتیاوې به یې د ژوند تر وروستیو پورې پاتې وي او همدارنګه به د دواړو ټولنو ترمنځ سوداګریزې اړیکې هم جوړې شي.»

پوهنتونونه د چین او نړۍ ترمنځ اړیکې رغوي

«د لندن امپریال کالج» رییسې «الیس ګاسټ» سینهوا اژانس ته ویلي چې دا پر دې باوري ده چې په تېرو څلوېښتو کلونو کې د چین پرمختګ «یوه غټه خبره» ده.

ګاسټ وايي: «د چین لهخوا د اقتصادي دروازو پرانیستل په تاریخ کې یو لوی بدلون دی.»


ګاسټ وايي، په تېرو څلوېښتو کلونو کې د چین د کورني اقتصاد ډېر پرمختګ او له نورو ...

۷مخ

## د خلکو د لګښتونو ډول او د ژوند کیفیت خورا ښه شوی دی

په تېرو څلوېښت کلونو کې په چین کې د عایداتو د زیاتوالي ترڅنګ، د لګښت کچه او جوړښت هم خورا ښه شوې ده. پخوا به د ښارونو او کلیو اوسېدونکو ډېرې پیسې په خوړو او جامو لګولې. اوس پر خوندونو او تفریح هم لګښتونه کېږي.

**لومړی- د ټولو لګښتونو (انګل ضریب) په نسبت د خوړو هغه په بېساري توګه را کمه شوې ده.**





په نړیواله کچه د خلکو د ژوند معیار د خوړو له لګښت نه معلومېده، ځکه دا د نورو لګښتونو یوه مهمه برخه ګڼل کېږي. د چین د اوسېدونکو د خوړو د لګښت کچه Engel coefficient په ۱۹۷۸ز کال کې ٦۳،۹ سلنه وه، خو په ۲۰۱۷ ز کال کې بیا ۲۹،۳ سلنې ته را ښکته شوه چې د ۱۹۷۸ز کال په پرتله ۳۴،٦ سلنه کموالی ښيي. دغه ضریب بیا د ښاریانو لپاره ۲۸،٦سلنه و چې د ۱۹۷۸ ز کال په پرتله ۲۸،۹ سلنه کمښت پکې راغلی و؛ ځکه هغه وخت ۵۷،۵ سلنه و. د کلیوالي سیمو د اوسېدونکو لپاره بیا دغه شمېره ۳۱،۲ سلنه وه او د ۱۹۷۸ز کال په پرتله ۳٦،۵ سلنه را کمه شوې وه؛ ځکه هغه وخت ٦۷،۷ سلنه وه.

د اصلاحاتو د پیل په لومړیو کلونو کې، چینایانو د خوړو واحد رژیم درلود او ډېر تمرکز به یې پر اصلي خوړو کاوه. اوس چینایان خپلو خوړو ته ډېر پام کوي او پر لومړنیو توکو یې د لګښت کچه خورا را کمه شوې ده. د غلې د لګښت کچه هم پکې را کمه شوې ده، ځکه په ۱۹۷۸ ز کال کې په ښارونو کې د سړي په سر د غلې دانې د لګښت کچه ۱۵۲ کیلوګرامه وه، خو په ۲۰۱۷ ز کال کې دا لګښت ۱۱۰ کیلوګرامه ته را ټیټ شو او په کلیوالي سیمو کې بیا له ۲۴۸ کیلوګرامه نه ۱۵۵ کیلوګرامه ته را ټیټ شو. له بل پلوه اوس هغوی له حیواني خوړو هم ګټه اخلي، لکه: غوښه، چرګان، هګۍ او لبنیات. په ۱۹۷۸ ز کال کې د چرګانو د غوښې لګښت په ښارونو کې د سړي په سر ۱،۰ کیلو و، په ۲۰۱۷ ز کال کې بیا ۹،۷ کیلوګرامه ته پورته شو او په کلیوالي سیمو کې له ۰،۳ کیلوګرامه څخه ۷،۹ کیلوګرامو ته پورته شو.

کله چې اصلاحات او د اقتصادي لارو پرانیستلو پالیسي پیل شوه، ډېرو کمو خلکو به له کور نه بهر خواړه خوړل. اوس ډېر خلک رسټورانټونو ته ځي او د پخوا په پرتله خورا ډېر لګښت کوي.


**دویم- که د جامو په اړه ووایو، نو چینایي وګړي فېشني او تیارې جوړې شوې جامې خوښوي.**





کله چې چین د اصلاحاتو او پرانیستو اقتصادي دروازو تګلاره پیل کړه، هغه وخت خلکو ډېرې ساده جامې اغوستلې او د ټولو موسمونو لپاره به یې هماغه یو ډول جامې وې چې یا به یې پخپله ځان ته جوړې کړې وې او یا به یې په درزي ګنډلې، خو اوس د ورځنۍ موډ جامې اغوندي.

له هغه وخت راهیسې تر دې دمه درې بدلونونه را منځته شوي دي، پخوا به خلکو جامې یوازې د دې لپاره اغوستلې چې پکې تاوده وي، خو اوس یې د سټایل لپاره اغوندي او داسې جامې خوښوي چې پکې راحت وي. اوس هغه ورځې نه دي چې خلکو به یو جوړ جامې په ټولو موسمونو کې اغوستلې، اوس خلک د هر موسم لپاره جلا جلا جامې پېري. خلک اوس جامې نه ګنډي، بلکې تیارې جوړې شوې جامې پېري او اغوندي. چینایان اوس جامې د ګنډلو، ډیزاین او رنګ له مخې خوښوي. د ځانګړو کمپنیو جوړې نوموتې جامې پېرل کېږي او خلک پکې ځانګړي سټایلونه خوښوي. نو په دې ډول اوس د پخوا په پرتله د جامو په پیرلو خورا ډېرې پیسې لګول کېږي. په ۲۰۱۷ ز کال کې ښاري چینایانو په منځني ډول د جامو په پیرلو ۱۷۵۸ RMB ین مصرفول چې د ۱۹۷۸ ز کال په پرتله ۴۰،٦ چنده ډېروالی ښيي او کلیوالو چینایانو بیا په منځني ډول ٦۱۲ ین پر جامو لګول چې د ۱۹۷۸ ز کال په پرتله ۴۰،۵ چنده لوړوالی ښيي.


**درېیم- د خلکو پایښتي مصرفونو کچه لوړه شوې ده.**





په چین کې د اصلاحاتو او د اقتصادي دروازو پرانیستلو د پیل پر مهال د هغو کسانو لپاره چې نوی به یې واده کړی و، لاسي ساعتونه، سایکلونه او د جامو ګنډلو ماشینونه درې اړین توکي وو. په ۱۹۷۹ ز کال کې هرو سلو ښاري کورنیو په منځني ډول ۲۰۴ ساعتونه، ۱۱۳ سایکلونه او ۵۴،۳ د جامو ګنډلو ماشینونه لرل. هرو سلو کلیوالي کورنیو بیا ۲۷،۸ لاسي ساعتونه ۳٦،۲ سایکلونه او ۲۲،٦ د جامو ګنډلو ماشینونه لرل. هغه وخت ډېرو کمو کورنیو ټلویزیونونه لرل. په ۲۰۱۷ ز کال کې هرو سلو ښاري کورنیو ۲۳۵ ټلیفونونه، ۸۰،۸ شخصي کمپیوټرونه او ۳۷،۵ موټرونه لرل. په کلیوالي سیمو کې بیا هرو سلو کورنیو ۲۴٦ ګرځنده ټلیفونونه، ۲۹،۲ شخصي کمپیوټرونه او ۱۹،۳ موټرونه لرل.





**څلورم- د ژوند شرایط او کیفیت خورا ښه شوی دی.**




د اصلاحاتو او د اقتصادي دروازو پرانیستلو د پیل پر مهال، به ډېری چینایانو په ښارونو کې اپارتمانونه او کوټې په کرایه نیولې، ډېرو کمو هغو یې خپل شخصي کورونه لرل. په ۱۹۸۴ ز کال کې ۸۸،۲ سلنه ښاري کورنۍ په کرایي کورونو کې اوسیدې او یوازې ۹،۴ سلنه کورنۍ په خپلو شخصي کورونو کې اوسیدلې. له هغې را وروسته ډېرې کورنیو خپلې غریبانه جونګړې او سر پناوې پرېښې او په ښکلو او رنګینو ودانیو او اپارتمانونو کې ژوند کوي. د ژوند شرایط خورا ښه شوي دي. په ۲۰۱۷ ز کال کې هر ښاري او کلیوال وګړي په کورنۍ کې د اوسېدو لپاره ساحه د ۱۹۷۸ ز کال په پرتله په جلا جلا توګه ۳۰،۲ او ۳۸،٦ متره مربع زیاته شوې وه .




**پنځم- د ترانسپورټ، مخابراتو، فرهنګ او زده کړې په برخو کې د لګښت کچه لوړه شوې ده.**





په چین کې د اصلاحاتو او د اقتصادي لارو د پرانیستلو د پیل پر مهال، په چین کې ټلیفونونه ډېر کم وو، خلکو به له یو بل سره د لیکونو له لارې اړیکې ټینګولې. همدا راز پر ترانسپورټ او مخابراتو یې لګښت هم کم کاوه. په ۲۰۱۷ ز کال کې په دغو دوو برخو کې د هر ښاري وګړي لګښت ۳۳۲۲ ین و او دا لګښت کال په کال ډېر شوی و، د ۱۹۷۹ ز کال راهیسې هر کال ۱۸،۰ سلنه لوړ شوی او د دغه دواړو ونډه ۱۳،٦ سلنې ته ورسېده چې د ۱۹۷۸ ز کال په پرتله ۱۱،۹ سلنه لوړوالی پکې راغلی و. په ۲۰۱۷ ز کال کې پر ترانسپورټ او مخابراتو د کلیوالو وګړو د سړي سر لګښت بیا ۱۵۰۹ ین و، چې له ۱۹۸٦ ز کال راهیسې هر کال ۱۹،۲ سلنه لوړوالی ښيي.

کله چې په چین کې اصلاحات پیل او اعلان شول، هغه وخت په چین کې خلکو پر تفریح کم لګښت کاوه او ژوند د فرهنګ له پلوه هم ډېر نه و غوړېدلی. له هغې را وروسته خلکو پر زده کړه، فرهنګ او تفریح ډېره پانګونه وکړه. په ۲۰۱۷ ز کال کې پر دغو درېو برخو کې د هر ښاري وګړي لګښت ۲۸۴۷ ین و چې د ۱۹۷۹ ز کال راهیسې ۱۳،۱ سلنه کلنی زیاتوالی ښيي. د کلیوالو وګړو لګښت بیا ۱۱۷۱ ین و او د ۱۹۸٦ ز کال راهیسې پکې ۱۵،۳ سلنه کلنی زیاتوالی راغلی.


**شپږم- په ټوله کې روغتیایي خدمات تر پخوا ډېر ښه شوي دي.**

کله چې اصلاحات او د اقتصادي دروازو د پرانیستلو پالیسي پیل شوه، هم په ښارونو او هم په لرې پرتو سیمو کې روغتیایي خدمات محدود وو. چیانیانو ته ډېر کم روغتیایي خدمات وړاندې کېدل، یوازې د ببړنیو ناروغانو درملنه کېدله، د عادي ناروغیو درملنې ته دومره پاملرنه نه وه. له هغې را وروسته روغتیا او درملنې ته پاملرنه ډېره شوه، روغتیایي خدمات ښه شول، اوس پکې خورا ښه روغتیایي خدمات وړاندې کېږي، د چین خلک خورا غوره او پراخو دولتي روغتیایي خدماتو ته لاسرسی لري او دغه ډول په خپله هم پر روغتیا لګښت کوي. په ۲۰۱۷ ز کال کې په منځني ډول یوه ښاري وګړي پر روغتیا ۱۷۷۷ ین لګول او دغه اندازه د ۱۹۷۸ ز کال راهیسې هر کال ۱٦،۷ سلنه لوړه وه. د یوه کلیوال وګړي لګښت بیا په ۲۰۱۷ ز کال کې په منځني ډول ۱۰۵۹ ین و چې د ۱۹۸٦ ز کال راهیسې هر کال ۱٦،۷ سلنه لوړ و.

تاریخ ته بیا کتنه پر خپل ځان د چینایانو اعتماد ډېروي. که را تلونکي ته ګورو؛ چین سخته دنده په مخ کې لري. د ولسمشر شي جین پینګ په مشرۍ به چین د عوایدو لا ډېرې سرچینې ومومي او د خلکو د پرمختګ لپاره به لا ډېر ډېر کارونه ترسره شي، په پایله کې به د خلکو د ژوند له لا ښه کولو سره مرسته وشي، یوه ارامه ټولنه به را منځته شي او د پېړۍ لپاره خپلې دوې موخې به رښتیا کړي.



## د چین او افغانستان د اړیکو انځورونه




# د اصلاحاتو ثلوېښت کاله او د بېوزلۍ را کمول




جیم یونګ کیم- د نړیوال بانک د ډلې رییس

### ۱. پېژندنه

سهار مو پهخیر! دا ما ته ډېر د وياړ او خوشالۍ خبره ده چې په دې نمانځغونډه کې ګډون کوم.

په ډسمبر کې به له هغه مهاله ثلوېښت کاله پوره شي چې « دنګ شیاو پینګ» په چین کې د اصلاحاتو لړۍ پیل کړه او اقتصادي دروازې یې پرانیستې. ده هغه مهال په خپله وینا کې وویل: «سرونه ازاد کړئ، په واقعیتونو کې حقیقت پیدا کړئ او د راتلونکي په اړه ټول یو موټی شئ.»

له دې وینا سره په چین کې د اصلاحاتو لړۍ پیل شوه او په تېرو ثلوېښتو کلونو کې یې چین دغه ځای ته را ورساوه چې اوسمهال دی. اوس چین د نړۍ دویم اقتصادي ځواک دی او د هغو کمو هېوادونو په ډله کې راځي چې ډېر ژر به له کم عاید لرونکو هېوادونو څخه د ډېر عاید لرونکو هېوادونو په کتار کې ودرېږي.

په تېرو څلورو لسیزو کې په دغه هېواد کې تر ۸۰۰ میلیونه ډېر انسانان له بېوزلۍ خلاص شوي دي. په ۱۹۷۸ ز کال کې د نړۍ په اقتصاد کې د چین ونډه ۱،۵ سلنه وه، خو اوس دغه کچه ۲۵ سلنې ته پورته شوې ده. همدارنګه د ۱۹۷۸ ز کال په پرتله د سړي سر کلنی عاید کچه ۱۵ ځله زیات شوې ده. هغه مهال د سړي سر کلني عاید کچه ۳۰۰ ډالر وه، خو په ۲۰۱۷ ز کال کې دا کچه ۷،۳۰۰ ډالرو ته پورته شوه.

چین اوس له شدیدې بېوزلۍ سره پوره واټن لري. دغه ثلوېښتمه کلیزه ډېر مناسب وخت دی چې د چین پر اصلاحاتو، پرانیستو اقتصادي دروازو او د بېوزلۍ په ختمولو کې یې تاریخ وکتل شي.

**لومړی-** موږ ته پکار ده چې د چین پر دغه مزل ځانونه پوه کړو او تاریخ یې سم وګورو.

**دویم-** موږ باید د چین پخواني اصلاحات وپېژنو، ځکه دغه اصلاحات د راتلونکو اصلاحاتو لپاره اړین دي.

**درېیم-** ډېری هېوادونه چین ته د پرمختګ د یوې نمونې په سترګه ګوري؛ نو د چین پر اصلاحاتو پوهېدل نورې نړۍ ته هم مهم دي.

د ۲۰۱۷ ز کال په اکتوبر کې چې د ګوند د نوولسم ملي کانګرس وشو، چین ځان د داسې یو نمونه او مثال خلکو ته وړاندې کړ چې باید تقلید یې وشي. د ولسمشر شي جین پینګ وینا وښوده چې چین له پخوانیو ارمانونو را وتلی دی. ده په خپله وینا کې وویل: «چینایي ماډل نورو هېوادونو او ملتونو ته یوه نوې لار وړاندې کوي چې غواړي چټک پرمختګ وکړي او په ورته وخت کې خپله خپلواکي هم وساتي. دغه ماډل همدارنګه د هغو ستونزو د حل لپاره چې بشر ورسره لاس او ګرېوان دی، چینایي پوهه او چینایي کړنلاره وړاندې کوي.»

چین څنګه د بېوزلۍ په را کمولو کې بریا ترلاسه کړه؟ په دې کې دوې خبرې مهمې دي:

**لومړی-** د چین د اصلاحاتو او د اقتصادي دروازو د پرانیستلو پروګرام چې دغه پروګرام د چټکې ودې او پرمختګ بنسټ شو او خلکو ته یې دا اجازه ورکړه چې ځانونه له بېوزلۍ خلاص کړي.

**دویم-** د اصلاحاتو په ټول دوران کې د بېوزلۍ را کمولو لپاره متمرکزې او پر لهپسې هڅې وشوې.

### ۲. اصلاحات او ور خلاصون

د بېوزلۍ په را کمولو کې د چین د بریا ډېره برخه په هغه اقتصادي ودې پورې تړلې ده چې د اصلاحاتو زېږنده وه. په دغو اصلاحاتو کې پر هغو لارښوونو عمل وشو چې اکثریت اقتصاد پوهان یې وړاندیز کوي. د سوداګرۍ لپاره د دروازو پرانیستل، بهرنۍ پانګونې او د اقتصادي اداري په اړه نوې مفکورې او نظریې.

په تدریج سره د بیو ټاکلو ته ازادي ورکول، په مالکیت کې تنوع او خصوصي سکتور ته د غوړېدلو لپاره د اجازې ورکول.

د ملکیت د حقوقو ځواکمنول او د زیربناوو او بشري سرچینو په برخو کې پانګونه.

که یوازې له دې اړخه ورته وکتل شي، نو د چین د تجربې مهم درسونه به پاتې شي. د دغه هېواد پراقتصادي نظام تدریجي، پر تجربې ولاړ او نامرکزي اصلاحات (په تېره بیا د اصلاحاتو په لومړیو ورځو کې)، د ختیځې اروپا او پخواني شوروي اتحاد له «ناڅاپي چارې» سره ښکاره توپیر درلود. په چین کې د اقتصادي اصلاحاتو موډ داسې و «چې له سینده داسې تېر شه چې د سیند کاڼي حس کړې.»

د اصلاحاتو لپاره د چین کړنلارې پراګماټېکې وې. له دې سره په چین کې خپلې اداري وغوړېدې. یو مثال یې «دوه اړخیزه لار» سیستم دی. د دغه سیستم سره کروندو او کارخانو دا اجازه ترلاسه کړه چې د دولت لخوا ټاکل شویو تولیداتو تر پوره کولو وروسته پر خپله خوښه تولیدات وکړي. دا کړنلاره د دې لامل شوه چې پلان شوی اقتصاد و نه شړېږي او له بلې خوا ورسره د ازاد بازار اقتصاد هم وغوړېده.

### ۳. د بېوزلۍ د را کمولو لپاره د چین ستراټېژي

له هغه مهاله چې په چین کې اصلاحات پیل او اقتصادي دروازې پرانیستل شوې، نو «د پرمختګ له لارې د بېوزلۍ راکمول» د چین د پرمختګ د سیاستونو سرټکی شو. د بېوزلۍ د راکمولو لپاره د چین هڅې موږ ته ځینې مهم درسونه را زده کوي:

**لومړی-** له هماغه پیله د حکومت جګپوړو چارواکو د بېوزلۍ د راکمولو له هڅو کلک سیاسي ملاتړ وکړ. د سیاسي ملاتړ دا لړۍ پخواني ولسمشر « دنګ شیاو پینګ » پیل کړه. په وروستیو کې ولسمشر «شي جین پینګ» وویل چې له «دریو اصلي موخو» څخه یوه یې په بشپړ ډول د بېوزلۍ له منځه وړل دي. له دې سره د بېوزلۍ د له منځه وړلو لپاره سیاسي ملاتړ لا پسې ډېر شو. دغه پیاوړې رهبري د حکومت ټولو برخو ته دا سپارښتنه کوي چې د خپلو واکونو او مسوولیتونو په ساحه کې د بېوزلۍ د را کمولو لپاره هڅې وکړي.

**دویم-** چین له بېوزلۍ سره مبارزې ته یوه اداره ځانګړې کړې ده. په چین کې په ملي کچه ...

۷مخ

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵،۷۰ |
| € | ۸۵،۸۵ |
| Rp. | ۵۳۹ |
| ₹ | ۱۰۶۰ |
| ¥ | ۱۰،۹۰ |
| £ | ۹۵،۳۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 12:00 |
| کابل - دوبی | 16:30 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

## په چين کې د اصلاحاتو د پيل کولو او ...

ملتونو سره د چين راشه درشه د داسې يو مزل بنسټ دی او لار يې ښيي چې هم به يې چين ته ګټه ورسېږي او هم نړۍ ته.

هغه وايي: «زما له انده چين به همداسې پرمختګ کوي، په تېره بيا که موږ اقتصادي دروازې همداسې پرانيستې پرېږدو او همکاري سره وکړو؛ ځکه زه فکر کوم چې د دغه ګډ کار کولو له هڅو سره به دا فرصتونه هم پيدا شي چې خلک سره يو ځای شي او لويو ستونزو ته د حل لپاره به نوې ټکنالوژي او حللارې پيدا کړي... زه پر دې باور يم چې په راتلونکي کې دغسې همکاري ډېره مهمه ده.»

ګاسټ چې په تېرو ځلوېښتو کلونو کې د چين او «د لندن اېمپريل کالج» ترمنځ راشه درشې ته ګوري، نو ډېر لوی بدلونونه او پرمختګونه ورته ښکاري.

«په لومړيو کې به يو چينايي وګړي په لويديځ کې زده کړې وکړې، بيا به بېرته خپل هېواد ته ستون شو او په پوهنتونونو کې به يې درس ورکاوه. خو اوسمهال د چين پوهنتونونه دومره ښه شوي چې هر څوک د تدريس او کار کولو لپاره ورځي.»

هغې ووېل: «چين ته سفر ډېر اسانه شوی دی او له هغه همکارانو سره ګډ کار چې په انګليسي ژبه ډېر ښه غږېږي، په تېرو ځلوېښتو کلونو کې دا ډېر لوی بدلون دی.»

په بې ساري ډول د بېوزلۍ ختمول او په ژوند کې ډېر ښه پرمختګونه

د لندن د اقتصاد پوهنتون رييس، «ډېم مينوچي شافيک» وايي: «په تېرو څو لسيزو کې د چين اقتصاد ډېر ښه شوی دی.»

هغه ټينګار وکړ: «د بېوزلۍ د کچې را ټيټول ډېر غټ کار دی.»

د يونيورسټي کالج لندن (UCL) رييس مايکل ارتور له اوږدې مودې راهيسې له چين سره راشه درشه لري او د ده د شخصي تجربې ډېره برخه د اصلاحاتو او پرانيستو اقتصادي دروازو په دورې پورې تړلې ده.

ارتور سينهوا اژانس ته ووېل: «ما دا هر څه په خپلو سترګو ليدلي، ز ه له ډېرو کلونو راهيسې چين ته ځم را ځم. په چين کې پرمختګونه، د ژوند بڼه او اوس چې په چين کومې زيربناوې شته، نو دا ډېره حيرانوونکې دې.»

دغه پوهنتون د بېجينګ او ټسينګ هوا پوهنتونونو غوندې له معتبرو پوهنتونونو سره اړيکې لري.

په چين کې د پوهنتونونو د سکتور پياوړي کول ارتور ليدلي دي، ټسينګ هوا او بېجينګ پوهنتونونو چې د يوويشتمې پېړۍ لپاره خپلې ستراتېژۍ جوړولې، نو «يونيورسټي کالج لندن» ورسره همکاري کړې ده.

ارتور وايي: «زما په اند د چين دغه غوره پوهنتونونه اوس د نړۍ په کچه له غوره پوهنتونونو څخه دي.»

دی زياتوي: «دغه پوهنتونونه ډېر ښه کار کوي، دوی دغه کار هغسې کوي لکه کوم چې دود دی. د نړۍ له لر او بر څخه تکړه کسان په خپلو پوهنتونونو کې د تدريس لپاره را ولي. په دغو تکړه کسانو کې هغه چينايي وګړي هم دي چې يو وخت يې په بهر کې کار کاوه او اوس بېرته چين ته راغلي دي.»

ارتور وايي: «ما د چين ښوونيزو او تحصيلي نظامونو وده، پراخېدل او پرمختګ ټول ليدلي دي. اوس د چينايي پوهنتونونو وړتياوې نړيوالې کچې ته رسېدلې دي او له ځلوېښت کاله پخوا سره پوره پوره توپير لري.»

«زما په فکر په چينايي پوهنتونونو کې يوه بله خبره ډېره د پام وړ ده. کله چې چين ته لاړ شې، نو ډېره په زړه پورې او حيرانوونکې دا ده چې د چينايي ټولنې د ټولو وګړو ژوند ورځ تر بلې ښه کېږي.»

## د اصلاحاتو ځلوېښت کاله او ...

«د بېوزلۍ د را کمولو او پرمختګ لپاره مخکښه ډله» اداره او په محلي کچه «د وروسته پاتې سيمو د پرمختګ اداري» د بېوزلۍ د را کمولو کلکې ملاتړې دي. دغو ادارو له بېوزلۍ سره د مبارزې لپاره پاليسۍ جوړې کړې دي او له محلي شرايطو سره يې سم دغه پلانونه عملي کړي.

«مخکښه ډله» د شلمې پېړۍ د وروستۍ لسيزې له لومړيو (هغه مهال چې موږ په لومړي ځل د بېوزلۍ ارزول پيل کړل) راهيسې له موږ سره همکاره ده. موږ او دغې اداري د بېوزلۍ د را کمولو په ګڼو هغو پروګرامونو کې ګډ کار کړی دی چې مالي ملاتړ يې موږ کاوه. په دغو پروګرامونو کې يو يې هم د «لويس د غرنيو سيمو پروژه» وه.

**درېيم-** زياتره بېوزله خلک هم پخوا او هم اوس په کليوالي سيمو کې اوسېدل. له همدې لامله د بېوزلۍ د راکمولو لپاره د کرنې وده تر ټولو اغېزناکه لاره وه. د ۱۹۸۱ او ۲۰۱۷ ز کلونو ترمنځ چې هر کال د کلني ناخالص توليد په کچه کې يوه سلنه ډېروالی راغلی دی، نو بېوزلي ورسره ۰.۹۷ سلنه را ټيټه شوې ده.

**څلورم-** چين په ارادي ډول ډېرو بېوزلو او بېچاروو ته سرچينې په واک کې ورکړې. د چين د بېوزلۍ د را کمولو پروګرامونه په منځلاري ډول له « سان شي» پروګرام سره پيل شول؛ خو په ۱۹۹۰ يمو کلونو کې له «۷-۸» پلان سره دغو پروګرامونو ته ډېر ارزښت ورکړ او ډېرې سرچينې ورته ځانګړې شوې. د يوويشتمې پېړۍ په لومړۍ لسيزه کې دا هڅې پر «متوازنه ټولنه» را ټولې شوې او له ۲۰۱۲ ز کال راهيسې دا پروګرام د «وروستۍ ميل» بلل کېږي چې پر بنسټ يې له ډېرو بېوزلو کسانو ملاتړ کوي څو خپل توليد او عوايد لوړ کړي.

د تېرو کلونو په اوږدو کې چين پر لهپسې د خپلو دغو سياستونو پر اهدافو بيا کتنه کړې ده، په پيل کې يې دا هڅې د ټول هېواد په کچه وې، بيا يې «د لوېديځې برخې پرمختګ ستراتېژي» غوندې پراخو سيمهييزو سياستونو ته مخه کړه، ورپسې يې بېوزله علاقهداريو، بيا کليو او په وروستي پړاو کې يې په بېوزله کورنيو کې د بېوزلۍ ختمولو ته مخه کړه. په تېرو پنځو کلونو کې «په دقيق ډول د بېوزلۍ تر هدف لاندې نيولو» حکومت د يوه ډېټابيس پر بنسټ په «وروستي ميل» پړاو کې د پاتې ۷۰ ميليونو بېوزلو کسانو ملاتړ کوي.

**پنځم-** مخ پر زياتېدونکې نا انډولتيا هم پاليسي جوړوونکو او هم ولس ته د اندېښنې خبره ده. په وروستيو کلونو کې د ټول نفوس ځلوېښت سلنه خلکو تر اوسط پورته عايد ترلاسه کړی دی. تر ۲۰۱۲ زکال مخکې لسيزه کې د ځلوېښت سلنه نفوس د کلني لګښت کچه ۸،۱ سلنې ته رسېدلې وه. دا نو تر ملي اوسط چې ۷،۹ سلنه دی، هم يو څه زيات دی.

وروستی درس دا دی چې چين د انساني پانګې رغولو ته ډېر پام وکړ. په ۱۹۷۹ ز کال کې پر لاتيني حروفو د چينايي تلفظ د څرګندولو طرحه پيل شوه چې زده کړې ورسره ډېرې ښې شوې. همدارنګه د کلونو په اوږدو کې د اصلاحاتو په چوکاټ کې د اجباري زده کړو له تدريجي پراختيا سره په کاريګره طبقه کې مساوات رامنځته کړل.

تر ۲۰۰۰ ز کال را وروسته د روغتيايي سيستم چټک پرمختګ چين اوس د نړۍ د نوښتګرو ملتونو په کتار کې ودراوه. همدارنګه د يوويشتمې پېړۍ له پيل راهيسې روغتيايي بيمې چټک پرمختګ وکړ او اوس عملاً ټول وګړي د روغتيايي بيمې خاوندان دي او له ۲۰۰۹ ز کال راهيسې په روغتيايي خدمتونو کې اصلاحات د چينايي وګړو روغتيا ډېره ښه کړې ده.

موږ په وروستيو کې د انساني پانګې لومړی فهرست خپور کړ. په دغه فهرست کې هغه پانګونې ښوول شوې دي چې هېوادونه يې د خپلو خلکو د روغتيا او تعليم په برخه کې وکړي. په دغه ډلبندي کې چين ۴۶م ځای خپل کړی دی. دا د منځنۍ کچې عايد لرونکو هېوادونو کې تر ګردو لوړ ځای دی او «د اقتصادي همکاريو او پراختيا سازمان» غړيو هېوادونو کچې ته ډېر نږدې دی.

### ۴. د نړيوال بانک ډلې او چين ملګرتيا

د نړيوال بانک ډله د اصلاحاتو په مزل کې د چين يو ژمن ملګری و. د دې ملګرتيا ډول پخواني ولسمشر دنګ شياو پينګ ټاکلی و. ده چې په ۱۹۸۰ ز کال کې د نړيوال بانک له رييس «مکنارما» سره وکتل، ورته يې ووېل:

«چين ژمن دی چې خپل اقتصاد ماډرن او پياوړی کړي. د نړيوال بانک په مرسته به چين خپلو موخو ته ژر او په اغېزناک ډول ورسېږي. که د نړيوال بانک مرسته نه وي، چين به بيا هم خپلو موخو ته ورسېږي؛ خو مزل به يې ورو وي.»

موږ په تېرو کلونو کې د چين د اقتصاد په اړه راپورونه خپاره کړي دي؛ لکه په ۱۹۸۱ ز کال کې «د سوسياليستي اقتصاد پرمختګ»، په ۱۹۸۴ ز کال کې د «اوږدمهال لپاره لرليدونه او لارې چارې»، په ۱۹۹۷ ز کال کې «چين په ۲۰۲۰ ز کال کې» او په ۲۰۱۴ ز کال کې «چين په ۲۰۳۰ ز کال کې». دغو راپورونو په چين کې د اصلاحاتو د مسير په تړاو پر بحثونو ډېر اغېز درلود او دا ځکه چې د نړيوال بانک کارکوونکو پر دغو راپورونو له خپلو چينايي سيالانو سره ګډ کار کړی و.

موږ همدارنګه د «بېوزلۍ ارزونې» درې ځلې وړاندې کړې دي. په دغو ارزونو کې موږ په چين کې د بېوزلۍ بدلېدونکې طبيعت ارزولی او هغه پاليسۍ او کړنلارې مو پکې وړانديز کړې دي چې له بېوزلۍ سره په ښه ډول مبارزه کولای شي.

همدارنګه د نړيوال بانک او چين ګډو پروګرامونه، لکه؛ «د سويل-لوېديځ د بېوزلۍ پروګرام»، «د لويس د غرنيو سيمو پروژه»، «د بېوزلو کليوالي ټولنو د پرمختګ پروژه» او « د ګوانګ شي د بېوزلۍ د ختمولو پروګرام» پايلو چين ته نوې لارې چارې او تخنيکونه ور وښوول چې چين د ټول هېواد په کچه وکارول. د بېلګې په ډول، د بېوزلۍ لپاره هغه کړنلارې چې څو سکتورونه پکې راټول شوي وي، د ژوند د چاپېريال ښه کول او د بېوزلۍ ختمول، د ټولنې ګډون او د بېوزلۍ د ختمولو د پروګرامونو لپاره د بودجې جوړول.

### ۵. د راتلونکي په اړه ليد

اوسمهال چين د لوړې کچې منځني عايد لرونکی هېواد دی او ژر به د لوړ عايد لرونکی هېواد شي؛ خو بيا هم د دغه هېواد عايد «د اقتصادي همکارۍ او پراختيا سازمان» د غړيو هېوادونو د اوسط ايله ځلورمې برخې ته رسېږي. که څه هم هغه وختونه تېر شول چې د چين ناخالص کورني توليد د پرمختګ سلنه به تر لسو پورته وه؛ خو لا هم د پېړۍ لپاره خپلو دوو موخو ته د رسېدو لپاره چين بايد پياوړې وده وکړي.

د چټکې ودې ساتل چين ته ډېر سخت شوي، اوسمهال کليوالي سيمو کې کاريګر زيات شوي، داسې ښکاري چې پر يوې برخې پانګونه کول او د ټول اقتصاد ورسره ښه کېدل به را ولوېږي او د نفوس زياتوالی نور د پخوا غوندې ګټه نه وړاندې کوي. د چين د ودې او پرمختګ ډېره تکيه بايد د توليداتو پر زياتولو او د نوښتونو پر کولو وي.

د دغه نوي مسير لپاره لا نورو اصلاحاتو او د اقتصادي دروازو پرانيستلو ته اړتيا ده. له اصلاحاتو سره به اداري بنسټونه لا نور پياوړي شي چې د چين مختلط اقتصاد به ورسره له کاره نه لوېږي. همدارنګه د اقتصادي دروازو لا نور خلاصون به نه يوازې دا چې چين ته هغه بازارونه برابر کړي چې اړتيا ورته لري، بلکې چين ته به له خورا پرمختللو هېوادونو سره د راکړې ورکړې لپاره ټکنالوژي، مديريتي استعداد او نظريې هم ورکړي.

داسې ښکاري چې چين به د لسيزې په پای کې شديده بېوزلي ختمه کړي، خو چين چې څومره سوکاله وي، هغومره به ورسره د بېوزلۍ په اړه نظر هم بدلېږي. نړيوال بانک د «د نړيوالې بېوزلۍ لپاره کمېسيون» لاربښوونې مني او اوسمهال په منظم ډول د چين لپاره د دوو نورو کرښو په کارولو سره د بېوزلۍ نرخونه وړاندې کوي.

د منځني عايد د ټيټې کچې په هېوادونو کې د بېوزلۍ معيار د ورځې ۳،۲۰ ډالره عايد دی. د چين د ټول نفوس اووه سلنه (۹۶ ميليونه وګړي) تر دغه معيار لاندې ژوند کوي.

د منځني عايد د لوړې کچې په هېوادونو کې د بېوزلۍ لپاره معيار د ورځې ۵،۵۰ ډالره دی. د چين ۲۷،۲ سلنه وګړي (۳۷۳ ميليونه تنه) تر دغه معيار لاندې ژوند کوي.

لکه څرنګه چې چين بدلېږي، دغسې به يې د نړيوال بانک له ډلې سره ملګرتيا هم بدلېږي. له اقتصادي پلوه چې چين څومره پياوړی کېږي، هغومره ورسره په نړيوال پرمختګ کې د دې هېواد ونډه زياتېږي. دغه هېواد د تودوخې بدلون په څېر مهمو کې مشرۍ ته اوږه ور کړې ده او په نړيوال ډګر کې د مخ پر ودې هېوادونو پياوړی غږ دی.

«د نړيوال پرمختګ اتحاديې» سره د چين راشه درشه ورځ تر بلې زياتېږي او همدارنګه دا هېواد په نويو پراختيايي بانکونو کې پانګونه کوي چې له دغو دواړو لارو څخه په مالي پرمختګ کې مخکښ رول لوبوي. همدارنګه دا هېواد د پرمختګ لپاره د پوهې د کارولو مهم تبليغ کوونکی دی. د دغه کار لپاره دا هېواد د «سويل-سويل» د زده کړې پروګرامونه وړاندې کوي او د پرمختګ په تړاو چين خپلې تجربې له نورو سره شريکوي.

نور هېوادونه چين ته د پوهې او تجربې د يوې سرچينې په سترګه ګوري. د نړيوال بانک ډله به د چين له مخ پر زياتېدونکي نړيوال پرمختګ څخه خپل ملاتړ ته دوام ور کړي. موږ به د مهمو نړيوالو مسلو په اړه همکارۍ ته دوام ورکړو او د چين د اصلاحاتو او د اقتصادي دروازو پرانيستلو له ځلوېښت کلنې تجربې څخه به درس اخلو.

د چين په مرسته به موږ دا پوهه له خپلو ټولو مراجعينو سره شريکه کړو او د تېرو ځلورو لسيزو د درسونو عملي کول به له نورو هېوادونو سره سوکالۍ ته په رسېدو کې ډېره مرسته وکړي. د بنسټ ډېرې به د تېرو تجربو پر مانۍ ږدو، خو راتلونکي ته به هم ګورو. موږ کولای شو په ګډه هر چاته دا فرصت ورکړو چې خپلو ارمانونو او هيلو ته ورسېږي او بالاخره د ځمکې له مخه د بېوزلۍ ټغر ټول کړو.

مسير ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** محمد نظيم سمون، جاويد کوټوال او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۲۷مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۱۸مه | دویم کال | ۳۰۲یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱٤ | ۲۰ | ۱۹ | ۱۳ | ۲۱ | ۱۹ |
| -۲ | ۲ | ۰ | ۵ | ۷ | ۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۳ | لمر ختل ۰٦:۵۲ | ماسپښین ۱۲:۱۸ | مازیګر ۰٤:۰۷ | ماښام ۰۵:٤۳ | ماخوستن ۰٦:۵۷

## نړۍ



# سعودي عربستان د امریکا د کانګرس وروستي پرېکړه لیکونه غندلي

۲

## د ګرجستان لومړنۍ ولسمشرې لوړه وکړه

د ګرجستان لومړنۍ ولسمشرې سالومې زورابیشویلي د دغه هېواد په ختیځ تلاوي ښار کې په یو لړ مراسمو کې لوړه وکړه.

مېرمن زورابېشویلي چې د واکمن ګوند «د ګرجستان خوب» ملاتړ ورسره دی، د ولسمشرۍ په دویم پړاو ټاکنو کې د ۵۹ سلنه رایو په تر لاسه کولو سره په خپل سیال ګریګول واشادزه چې شاوخوا ۴۰ سلنه رایې یې ګټلې وې، بریالۍ شوه.

ګریګول واشادزه ادعا کړې چې په ټاکنو کې درغلي شوي او یو شمېر پلویانو یې په تلاوي ښار کې د لاریون نیت درلود، خو پولیسو د



هغوی مخه ډپ کړه.

مېرمن زورابیشویلي د خپلې لوړې په مراسمو کې په ګرجستان کې د ملي یووالي د ټینګېدو غوښتنه وکړه. هغې په خپله وینا کې ټینګار وکړ چې ګرجستان به د اروپا د ملاتړ سیاست جاري وساتي او له روسیې هم غواړي چې نړیوالو قوانینو ته درناوی وکړي.

ګرجستان او روسیه په ۲۰۰۸ ز کال کې په جګړه کې سره ونښتل چې په پایله کې یې له ګرجستان څخه دوې سیمې جلا او د روسیې تر واک لاندې شوې.

له یادې جګړې وروسته د بشري حقونو د څار ادارې په یوه راپور کې په ګرجستان تور پورې کړ چې په سویلي اوستیا کې یې بې رحمه زور کارولی، خو د ګرجستان د هغه وخت ولسمشر میخایل ساکاشویلي دغه تورونه رد کړل.

## ترکیه: امریکا ته مو د ګولن د نه استرداد له کبله زغم پای ته رسېدلی



د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مولود چاووش‌اوغلو ویلي، امریکا ته مو د فتح الله ګولن د نه استرداد له کبله زغم پای ته رسېدلی دی.

ګولن یوه پېژندل شوې ترکي څېره ده چې له کلونو په امریکا کې اوسېږي او د رجب طیب اردوغان د حکومت له مخالفینو دی.

اوغلو ویلي، له امریکا یې غوښتي چې د ګولن په شمول څه باندې ۸۰ کسان بېرته ور وسپاري، خو امریکا تر اوسه په دې برخه کې کوم اقدام نه دی کړی.

نوموړي ویلي: «دا سړی (فتح‌الله ګولن) او نور کسان چې د ګولن په سازمان پورې تړلي دي، په هغو ۸۴ نومونو کې دي چې موږ له امریکا غوښتي رامسترد کړي او ترکیې ته دې وسپاري».

ترکیې ګولن چې د امریکا په پنسلوانیا ایالت کې اوسېږي، د ۲۰۱٦ ز کال د جولای په ناکامې کودتا کې په لاس لرلو تورن کړی دی، خو نوموړی بیا دغه تورونه ردوي.

د ترکیې د ناکامې کودتا په هڅه کې شاوخوا ۳۰۰ کسان ووژل شول او څه باندې دوه زره نور هم ټپیان شول چې په پایله کې یې د اردوغان د حکومت په امر لسګونه زره کسان بند ته ولوېدل او کودتا له ناکامۍ سره مخ شوه.

د اردوغان حکومت نه یوازې د فتح‌الله ګولن د پلویانو مخالفت له ځانه سره لري، بلکې په ترکیه کې د حاکم ګوند عدالت او ترقۍ پر وړاندې څو مهم او ډېر پلوي ګوندونه هم فعالیت کوي.

د ۲۰۱۸ ز کال په لومړیو کې ترکانو په عمومي ټاکنو کې نږدې نیمایي رایې د رجب طیب اردوغان د ګوند په مخالفت کې نورو ګوندونو ته ورکړې.

## اعضای ولسی جرگه: آراء در کمیسیون انتخابات فروخته می شود



برخی اعضای ولسی جرگه و دیده بان انتخابات و شفافیت افغانستان (ایتوا) روند بازشماری آرای انتخابات ولسی جرگه را زمینه ساز تقلب در این روند می دانند.

عبیدالله بارکزی نماینده مردم ارزگان که در نشست دیروز ولسی جرگه صحبت می کرد، بازشماری آراء را زمینه ساز تقلب خواند و گفت که در حال حاضر، هر رای تا دوصد دالر در کمیسیون انتخابات فروخته می شود.

او خواهان رسیده گی به تقلب ها و تخلفات گسترده در انتخابات شد و گفت که شورای ملی، جای پولداران نیست و نباید کمیسیون اجازه بدهد که افراد با استفاده از پولی که دارند، به این جرگه راه پیدا کنند.

در عین حال شاه محمود مل معاون دیده بان انتخابات و شفافیت افغانستان (ایتوا)، دیروز در یک نشست خبری در کابل گفت که این نهاد، روند باز شماری آراء را بررسی کرده است.

او افزود که در روند بازشماری آراء بی نظمی ها، عدم بی طرفی کارمندان بازشماری، عدم همکاری میان کمیسیون های انتخاباتی، اختلاف بین ناظرین و کارمندان کمیسیون، ضعف مدیریتی، مشکلات تخنیکی، تخطی ها و مشکلات دیگر دیده شده و شفافیت پروسهٔ تفکیک دقیق آرای معتبر از غیرمعتبر را با چالش مواجه ساخته است.


همچنان او گفت که مداخله ناظرین احزاب سیاسی و نامزدان و کم بودن تعداد محلات بازشماری، منجر به کندی روند، سکتگی و حتی توقف آن در اکثر اوقات گردیده است.

موصوف افزود که برخی کارمندان کمیسیون انتخابات، به نحوی از احزاب و یا نامزدان مشخص حمایت کرده اند.

به گفته او، اگر این روند به گونهٔ کنونی ادامه یابد، ممکن مراحل بعدی چون اعلام نتایج نهایی انتخابات را نیز با تاخیر مواجه سازد.

## ژوند


## موبایل ته ښکته کتل او د ملا پر تیر یې اغېز!



د اعصابو جراحي ډاکټران وايي، په ځوانانو کې د ملا د تیر عملیات د پخوا په پرتله څو چنده زیات شوي او لامل یې د ځوانانو له لوري د ځیرک موبایل د استعمال پر وخت یوې خوا ته د غاړې کوږوالی په ګوته کړی دی. روان کال د امریکا له لاس انجلس ایالت څخه د «سپاین» په نوم چاپېدونکې مجله کې د دغه ایالت اړوند د اعصابو جراحي ډاکټرانو لیکلي، داسې ځوانان چې هېڅ ګومان نه کېدو چې د ملا د تیر له لوړې حصې او یا د غاړې د شاتنۍ برخې له درد څخه د شکایت وکړي، شکایتونه کوي چې د ملا د تیر پورتنۍ برخه او یا د غاړې شاتنۍ حصه یې درد لري. په دې سربېره یې د اوږو پلې هم درد کوي او په مستقیم درېدلو کې ستونزه لري.

د لاس انجلس په سیدرایس سینایي روغتیایي مرکز کې د اعصابو د ډاکټرانو د یوې ټولنې مشر وايي، په ځوانانو کې د ملا د تیر د پورتنۍ برخې او همدارنګه دغاړې د پلو او شاتنۍ برخې د درد په صورت کې مو چې کله د دوی ایکسرې(X-RAYS) وکړه، راته مالومه شوه چې د دغو کسانو د غاړې هډوکي د شا خواته کاږه ښکاري او د غاړې پر لیندۍ باندې یې زور راغلی چې لامل یې د ولاړې په حال کې په ځیرک موبایل کې د اوږدو اوږدو پیغامونو لیکل دي.

## ماشوم باید کورنۍ ملاتړ حس کړي



ستاسو ماشومان ځینو لارو چارو او وسیلو ته اړتیا لري، څو کورنۍ ډاډ تر لاسه کړي او له بېروني محیط سره په اسانۍ اړیکې ټینګې کړي. له دغو وسیلو څخه یوه یې هم ماشوم ته داسې روحیه ورکول دي چې ګواکې کورنۍ یې پوره ملاتړې ده.

د ماشومانو لپاره یې کورنۍ د یوې نړۍ په څېر ارزښت لري. ماشومان خپل ژوند او په ژوند کې خوښي د خپلې کورنۍ په ملاتړ کې ویني. که د کورنۍ اړیکې او مینه له ماشوم سره ګرمه وي، نو ماشوم هم پر خپل ځان باور پیدا کوي او په ډېرې اسانۍ سره کولای شي له بېروني محیط سره خپلې اړیکې ټینګې کړي او یو پیاوړی کس ترې جوړ شي. دا ډېره اړینه ده چې ماشومان باید له یوې کورنۍ، ډلې او یا هم یوې سالمې ټولنې سره اړیکې ولري، څو حس کړي چې دوی هم په دې نړۍ کې یو با ارزښته څوک دي. هر ماشوم دا خوښوي چې په یو چا پورې تړلی وي، څو دا حس کړي چې دی هم د دې ټولنې یو غړی دی او خلک ورته اړتیا لري. ماشوم دې ته اړتیا لري، څو پوه شي چې یو څوک دی او کورنۍ یې ارزښت ورکوي، همدا د دې لامل کېږي چې ماشوم بیا اخلاقي ارزښتونه وپېژني.